# د شپېلۍ غږ

زړه مې له زنګه مینځي
په خوږو ترمو اوښکو
د شپېلۍ غږ ماته ژړا راولي
هغه شپونکی کلونه وړاندې مړ دی
د غره په سر کې یې زیارت خو وینې
په سپېرو خاورو خړ دی
ها چې په زړه کې یې آواز د شپېلۍ
و په ناسپېږدې لمده غوټه بدل
اوس ترېنه نی دي راشنه
له هغو نی نی ماشومان د کلي
د نی قلم جوړوي
په کاغذونو کې رسمونه کاږي
په دې رسمونو کې راتاوې دي نغمې د شپېلۍ
څه ډېر کلونه وړاندې
زه وم د کلي ماشوم
په افسانو کې به مې اورېده رباب د آدم
د درخانۍ په دواړو لېچو کې به
د بنګړو شرنګ په سُروتال و او په زیرو په بم
کله به هم چې ګل آندامه له بهرامه یووړه دېو  تُرابان
ما به ژړل ورپسې
راته مشرانو به وې ولې ژاړې؟

دا خو کیسه ده څه ربښتیا خو نه دي

خو تسلي به زما نه کېدله

هو ربښتیا هغه شپه هم ډېر خپه شوم

چې په کوټه کې په نڅا راغله بدرۍ ښاپیرۍ

ورپسې بندې دروازې او کړکۍ

د کلي نجونې ورته ناستې وې په مینه په شوق

بدرۍ جماله د وزرو په جامو کې په ادا ګډېده

کله به موسکه وه او کله په خندا ګډېده

زما تر خوا هم راغله

ما یې لاسونه د وزرو په جامو ووهل

د خت لمنه یې پسته مسته وه

لکه پاسته ماسته رانجه لکه ورېښم د وطن

لکه د شاتو د مچیو د تنکۍ ملِکې

یا د نرګس د پاڼو نرم بدن

ما ځان په خیال کې شهزاده سیف الملوک بللو

ما د بدرۍ له جېبه

یو پوست او نرم دسمال هم را پټ کړ

چې مې پر سترګو پر مخ و موښه نشه غوندې شوم

یوه خوشبو وه په کې

چې سل نرګسه پسې نه رسېدل

چې د لونګو لوی بازار یې د پښو ګرد هم نه و

زه بې هوشۍ ته وم روان چې یوه پېښه وشوه

بدرۍ ناڅاپه شوه کوتره او پاس والوتله

او پاس په چت کې د رڼا له دریڅې ووته
پر دې مین سیف الملوک په سپین میدان پاتې شو
***
خلکو ویل چې ملوک
بیا هم لګیا دی او اووه جوړې د وسپنې څپلۍ جوړوي
مونږ ماشومان به هم حیران پاتې وو
چې اوس ملوک مین د وسپنې څپلۍ څه کوي؟
خلکو به وې چې تاسې نه پوهیږئ
تر کوه قافه پورې ډېره لاره
په کې اووه جوړې د وسپنې څپلۍ زړیږي
کوئ دعاوې چې مین ملوک بدرۍ ښاپیرۍ بیا راولي
د ماشومانو دعاګانې خدای ته ښې ورلګي
مونږ ماشومانو کړې تناکې ژبې
په ډېرو ډېرو دعاګانو باندې
بیا داسې چل په مونږه هم وشو
چې مونږ د کلي ماشومان شو بیماران په ښاپیریو پسې
د خدای کارونه وو، یو شپون و پاس له غره راغلی
پر دې خبر و چې د کلي ماشومان دي خپه
دي بیماران د ښاپیریو د بېلتون له غمه
بس د سپوږمۍ په یوه تکه سپینه شپه کې بام ته وختلو
له ډېره درده یې شپېلۍ ته ور پو
یو سوی لوَی لوغړن اسوېلی
خلکو ویل چې د شپېلۍ آواز به

تر کوه قافه پورې ورسېږي
او هغه ورکې ښاپېرۍ به لاس نیولې بېرته
کلي ته بیا راولي
زړه مې له زنګه مینځي
په خوږو تړمو اوښکو
د شپېلۍ غږ ماته ژړا راولي

۱۷ دلو ۱۴۰۲ هجري شمسي، خوست توره وړۍ